د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مې په: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ ګواه ورکولو، لمانځه ادا کولو، زکات ورکولو، پیرو او اوربدلو او هر مسلمان ته په نصیحت کولو بیعت وکړ

له جریر بن عبد الله رضی اللہ عنه څخه روایت دی وایي چې: د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مې په: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ ګواه ورکولو، لمانځه ادا کولو، زکات ورکولو، پیرو او اوربدلو او هر مسلمان ته په نصیحت کولو بیعت وکړ.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

صحابي جرير بن عبد الله رضي الله عنه خبر ورکوي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پدې بيعت وکړ چې د الله جل جلاله يووالي به مني، له شرطونو، رکنونو، واجباتو او سنتونو سره به په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي، فرضي زکات به ورکوي چې له مالدارانو اخيستل کيږي او اړمنو غريباتو ته ورکول کيږي، او پدې چې د واکمنانو پيرو به کوي، هر مسلمان ته به نصيحت کوي، هغه ته به په خبر رسولو ټينګار کوي او په وينا او کړنو به ورځخه شر دفع کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3512